# د اهلِ تقوىٰ

# اوصاف

08-April-2022



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

## په 8 اپریل، 2022ء د پاکستان هفته وار اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د اهلِ تقوٰی اوصاف

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللہ　　وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ اللہ　　وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ اللہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! چې کله جُمات ته داخل شئ، نو د اِعتِکاف نِیَّت کوئ، تر څو پورې چې په جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کیږي. یاد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښاك، اُوده کیدلو شرعاً اجازت نشته، البته که د مخکښې نه مو د اعتکاف نِیَّت کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شریف فضیلت

زمونږ خوږ آقا مکي مدَني مصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: زَیِّنُوۡا مَجَالِسَکُمۡ بِالصَّلَاۃِ عَلَیَّ خپل مجلسونه په ما باندې دُرُود شریف لوستلو باندې ښائسته کړئ! فَاِنَّ صَلَاتَکُمۡ عَلَیَّ نُوۡرٌ لَّکُمۡ یَوۡمَ الۡقِیَامَۃِ بے شکه ستاسو په ما باندې دُرُود لوستل به د قیامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي.[1]

---

[1]...جَامِعِ صَغِیر، حرف: زاء، صفحه:280، حدیث:4580۔

صَــلُّــوْا عَــلَى الْـحَــبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَـمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ (يعنې) رښتينے نِيَّت د ټولو نه افضل عمل دے.[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ښه نِيَّت افضل ترين عمل دے. راځئ! د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه اوکړو: نِيَّت اوکړئ چې ❀ نظر به ښکته ساتم او ښه په غور به بيان اورم ❀ چې څومره کيدے شي د ډډې وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د اَلتَّحِيَّات په شکل کښې کښينم ❀ د ضرورت په توګه به راغونډ کښينم او نورو ته به ځائ فراخه کووم ❀ که څوك راته څه تڪليف را اُورَسَوي نو صبر به کووم ❀ چا ته به د نيغ نيغ کتلو نه ځان بچ ساتم ❀ د بيان نه پس به پخپله ورمخکښې کيږم او سلام به کووم ❀ که قلم کاغذ درسره وي نو د اهمو نڪاتو نوټ کولو نِيَّت هم اوکړئ.

صَــلُّــوْا عَــلَى الْـحَــبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَـمَّد

**حضرتِ** سيِّدُنا عبدُالله ابنِ عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دے چې جنابِ **رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِين** صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "**الله** تعالیٰ د رَمَضان په مياشت کښې هره ورځ د روژه ماتي په وخت کښې لس لکه داسې ګنهګاران د جَهَنَّم نه آزادوي په کومو چې د ګناهونو په وجه جَهَنَّم واجِب شوے وو، او د **جُمُعے په شپه او د جُمُعے په ورځ** (يعنی د زيارت په ورځ لـمر پريوتو نه واخله د جُمُعے د ورځې لـمر پريوتو پورې) **په هر هر ساعت کښې داسې لس لس**

---

1…جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

لکه ګنهګارانو ته د جَهَنَّم نه آزادي ورکولے شي کوم چې د عذاب حقدار ګرځولي شوي وي.
(اَلْفِرْدَوْس بِمَأْثُوْرِ الْخِطَاب ج٣ ص٣٢٠ حديث٤٩٦٠)

اللّٰه پاک دِ مونږ ګنهګاران هُم په خپلو بخښلو بندګانو کښې شامل کړي- آمین

## د خوږ آقا ﷺ دوه خوږه نصیحتونه

د صحابيء رسول حضرت اَبُوسَعِيْد خُدرى رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دے: یو ځل یو صحابي د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت اقدس کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: يَارَسُوْلَ اللّٰه! اَوْصِنِى یعني اے د اللّٰه پاك خوږ حبيبه صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما ته نصیحت اوفرمائې! خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه صحابي ته درې نصیحتونه اوکړل، په هغې کښې دوه نصیحتونه دا دي: 1 عَلَيْكَ بِتَقْوَى اللّٰهِ فَاِنَّهُ جِمَاعُ كُلِّ خَيْرٍ په تا باندې تقوٰی لازمه ده، بے شکه تقوٰی د ټولو خیرونو مجموعه ده. 2 وَعَلَيْكَ بِذِكْرِ اللّٰهِ فَاِنَّهُ نُوْرٌ لَكَ او په تا باندې د اللّٰه پاك ذِکر کول لازم دے، بے شکه د اللّٰه پاك ذِکر به ستاسو د پاره نُور وي.[1]

## کاش! مونږه هم نصیحت قبلوونکي جوړ شو

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! د غور مقام دے، د صحابۀ کرامو اداګانے څومره ښکلې دي، دا پاکان صحابۀ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوان به د خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضریدل او نصیحتونه به ئې اخستل، بخپله به ئې خواست کولو چې يَا رَسُوْلَ اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ماته نصیحت اوکړئ! نن زمونږه حال څه دے؟ مونږه

---

[1]...مسند ابی یعلی، جلد:1، صفحه:324، حدیث:1001ملتقطاً۔

چې د يو عالِمِ دِين په خدمت کښې حاضر شو، د الله والؤ سره د ملاقات شرف حاصل شي نو مونږه څه کوو؟ سيلفي اخلو [يعني پخپله د هغوئي سره تصوير اخلو].

الله پاك دې مونږ ته هدايت نصيب کړي. په حديثِ پاك کښې دي: اَلْحِکْمَةُ ضَالَّةُ الْمُؤْمِنِ حکمت د مُومِن ورکه شوې خزانه ده.[1] آيا تاسو داسې انسان ليدلے دے چې د هغه نه يو قيمتي څيز ورك شوے وي او هغه د خلقو سره سيلفيانې اخلي؟ نه به مو وي ليدلے، داسې کيږي نه، د چا نه چې قيمتي څيز ورك شي، د هغه د مخ رنګ بدليږي. هغه هر طرف ته ګرځي، د خلقو نه د خپل قيمتي څيز په باره کښې پوښتنه کوي، اعلانونه کوي، **که چا زما فلانے څيز ليدلے وي نو په دې پته باندې خبر راکړئ.**

لږ غور اوکړئ! حکمت د مسلمان ورَکه شوې خزانه ده، مونږ له خو پکار دي چې د حکمت خبرې زده کولو د پاره بے قراره اوسو، که چرته راته د علم او حکمت خبرې ښودلو والا ميلاؤ شي، د هغوئي سره د سيلفيانو اخستلو په ځائ د هغوئي نه د علم او حکمت خبرې زده کړو، لاس په نامه عرض اوکړو: محترمه! ما ته نصيحت اوکړئ! کاش! مونږ داسې جوړ شو.

## تقوٰی د هرې نيکئ اصل دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! خوږ نبـي د نصيحت طلب ګار صحابـي ته درې نصيحتونه اوفرمائيل، مونږ د هغې د اوريدلو سعادت حاصل کړو: په هغې کښې دوه نصيحتونه دا دي: (1) تقوٰی اختيار کړه چې تقوٰی د ټولو خيرونو مجموعه ده. (2) د الله پاك ذِکر کول لازم اوساته چې دا به ستاسو د پاره نُور وي.

---

[1]...ابن ماجه، کتاب الزہد، صفحه:677، حديث:4169۔

د دې حدیثِ پاك نه د ذِکرُ الله فضیلت معلوم شو او د دې سره سره دا هم معلومه شوه چې تقوٰی د ټولو خیرونو مجموعه ده، چا ته چې دا دولت نصیب شو لکه هغه ته چې ټول خیرونه نصیب شو. حُجَّةُ الاسلام اِمام محمد بِن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: اے ګرانه قدرمنده! تا له پیژندل پکار دي چې تقوٰی یوه قیمتي خزانه ده، که ته په دې خزانه حاصلولو کښې کامیاب شوې نو ته به لویه کامیابي حاصله کړې، داسې ځان پوهه کړه چې **د دُنیا او آخرت ټول خیرونه په تقوٰی کښې جمع کړے شوي دي.**[1]

## د متقیانو د پاره انعامونه

علمائے کرام فرمائي: الله پاك په قرآنِ کریم کښې د مُتقیانو ډیر فضائل بیان کړي دي او هغوئي ته ئې ډیر زیات زیري ورکړي دي مَثَلاً ❁ **مُتقیانو** ته د الله پاك مدد او مرسته حاصلیږي ❁ **مُتقیانو** ته په دُنیا او آخرت کښې عِزَّت نصیب کیږي ❁ **مُتقیانو** ته علم ورکړے کیږي، حکمت هم ور عطا کیږي❁ الله پاك د **مُتقیانو** ګناه ورانوي ❁ هغوئي ته لوئ اجر ورکوي ❁ د **مُتقیانو** بخښنه کیږي ❁ الله پاك **مُتقیانو** ته آسانئ ورکوي ❁ د هغوئي په کارونو کښې سهولت او نرمي اینښودے کیږي ❁ **مُتقي انسان** د غم او مُشقت نه خلاصے مومي ❁ **مُتقي انسان** ته په دُنیا کښې فراخه رزق عطا کیږي ❁ **مُتقیان** به په آخرت کښې نجات مومي ❁ **مُتقیانو** ته د عبادت توفیق ورکړے کیږي ❁ الله پاك هغوئي د ګناهونو نه محفوظ ساتي ❁ **مُتقي انسان** په خپلو مقصدونو کښې کامیابیږي ❁ الله پاك د **مُتقیانو** د ربتینئ ګواهي ورکوي ❁ دوئي ته د الله پاك محبت نصیب کیږي ❁ د **مُتقیانو** عبادت قبلیږي ❁ **مُتقیانو** سره به نه غم وي او نه ویره ❁

---

[1] ...منهاج العابدين، صفحه:115خلاصةً۔

الله پاك به دوئي ته په جنَّت کښې اعلٰـی درجه ورکړي ❁ او د ټولو نه زیات دا چې مُتقي انسان د الله پاك په بارګاه کښې اعلٰـی مقام حاصلولو کښې کامیابیږي.[1]

## د مخکښې وروستو والؤ د پاره نصیحت

یو ځل یو مُرید د خپل پیر صاحِب په خدمت کښې عرض اوکړو: محترمه قدرمنده! ما ته څه وصِیَّت اوکړئ! پیر صاحب اوفرمائیل: زه تا ته د الله پاك هغه وصِیَّت کووم کوم چې الله پاك مخکښې وروستو ټولو انسانانو ته کړے دے، الله پاك فرمائي:

وَ لَقَدْ وَصَّیْنَا الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَ اِیَّاكُمْ اَنِ اتَّقُوا اللّٰهَ ؕ

(پاره:5،سورهٔ نسآء:131)

[مفهوم] ترجمهٔ کَنْزُ الایمان: او بیشکه تاکید کړے دے مونږه هغوئي ته کوم چې ستاسو نه مخکښې کتاب ورکړے شوے وو او تاسو ته چې د الله پاك نه اُویریږئ.

اے عاشِقانِ رسول! لږ غور اوکړئ! الله ربُّ الْعٰلَمِیْن د ټولو جهانونو پالونکے دے، الله پاك په خپلو بندګانو ډیر زیات مهربانه او رحم کوونکے دے، هغه الله پاك خپلو بندګانو ته د تقوٰی وصِیَّت کوي، که د بنده د پاره د تقوٰی نه علاوه څه بل څیز زیات فائده مند او خیر والا وے نو الله پاك به خامخا د هغې حکم فرمائیلے وے خو الله پاك د تقوٰی اختیارولو وَصِیَّت فرمائي، ټولو اوَّلینو او آخرینو ته د تقوٰی حکم ورکړو، د دې نه دا معلومه شوه چې **د الله پاك په نِزد د بندګانو په خوبیانو کښې د ټولو نه اوچته خوبي تقوٰی ده.**

---

[1] ...نضرۃ النعیم، جلد:4، صفحه:1120۔

## د خوږ آقا خوښ څوك ؟

د ټولو مسلمانانو مور محترمه حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ عَنْہَا فرمائي: رَسُولِ اکرَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دُنیا په یو څیز هم نه خوشحالیدلو او د مُتَّقي او پرهیزګار انسان نه سِوا هغوئي چا خوشحاله کړي نه دي.[1]

## ټول عِزَّت په تقوٰی کښې دے

الله پاك په قرآنِ کریم کښې ارشاد فرمائي:

اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْؕ

(پاره:26،سورۂ حجرات:13)

[مفهوم] ترجمۂ کَنْزُالایمان: بے شکه د الله په نِزد زیات عِزَّت والا هغه دے څوک چې په تاسو کښې د ټولو نه زیات پرهیزګار دے.

د دې آیتِ کریمه نه معلومه شوه چې د الله پاك په بارګاه کښې د فضیلت او عِزَّت دارومدار نسب نه بلکه پرهیزګاري ده، څکه هر یو مسلمان له پکار دي چې هغه په نسب باندې د فخر کولو نه بچ شي او تقوٰی او پرهیزګاري خپله کړي چې د الله پاك په بارګاه کښې ورته عِزَّت او فضیلت نصیب شي.[2]

یو عربي شاعر وائي:

مَا يَصْنَعُ الْعَبْدُ بِعِزِّ الْغِنٰى　　وَ الْعِزُّ كُلُّ الْعِزِّ لِلْمُتَّقِىْ

**ترجمه:** انسان به د مال او دولت په عِزَّت څه اوکړي، عِزَّت خو ټول د مُتَّقي د پاره دے.

---

[1] …مسند امام احمد، مسند عائشة، جلد:10، صفحه:112، حدیث:25132۔

[2] …صراط الجنان، پاره:26، سورۂ حجرات، تحت الآیة:13، جلد:9، صفحه:447۔

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! غور اوکړئ! دا خومره اعلٰـی خوبئ دي ❀ کومې چې الله پاك په تقوٰی کښې اېښودې دي ❀ تقوٰی د هر خير اصل دے ❀ ټول مخکښې وروستو [خلقو] ته د تقوٰی وصيت شوے دے ❀ تقوٰی والا هم هغه انسان دے د چا نه چې خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيات خوشحاليږي ❀ تقوٰی هم د عِزَّت اصل مِعيار دے. مونږ له پكار دي چې د داسې عَظِيمُ الشَّان دولت حاصلولو يعني تقوٰی اختيارولو کوشش اوکړو.

## تقوٰی د سفر بهترين سامان دے

الله پاك په قرآنِ کريم کښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ تَزَوَّدُوْا فَاِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوٰى ٘<br>(پاره:2،سورۂ بقره:197) | [مفهوم] ترجمهٔ کَنزُالايمان: او توشه (د سفر خرچه) ځان سره واخلئ چې د ټولو نه ښه توشه پرهيزګاري ده. |

په دې آيتِ کريمه کښې حکم ورکړے شوے دے چې کله هم په سفر ځئ نو د سفر سامان ځان سره اخلئ! د ټولو نه بهترينه توشه **تقوٰی** ده. خاص طور چې مونږ ته د ټولو نه اهم او يقيني د آخرت سفر کول دے، په دې سفر کښې خو اصل توشه **تقوٰی** ده. د حُجَّةُ الاسلام اِمام محمد بِن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو خپل وفات شو نو هغوئ د هغه د دفن کولو نه پس د هغه په قبر باندې يو عبرتناك شعر اوليکلو:

لَيْسَ زَادٌ سِوَى التُّقَا | فَخُذِيْ مِنْهُ اَوْ دُعِي

د دې سفر توشه صرف تقوٰی ده، اوس ستاسو خوښه ده چې تقوٰی اختياروئ او که نه.[1]

---

1 ...منهاج العابدين، صفحه:120۔

# د اهلِ تقوٰی د اوصافو بيان

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! الله پاك دې مونږ ته د تقوٰی دولت را نصيب كړي. مونږ به تقوٰی څنګه حاصلوو؟ د دې د پاره راځئ چې د اهلِ تقوٰی يو څو اوصاف په دې نِيَّت سره واورو چې مونږه هم دا اعلٰـی اوصاف خپل كړو او د مُتَّقـي جوړيدلو كوشش اوكړو. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم!

## (1)د اهلِ تقوٰی وړومبے صفت د شبهاتو نه بچ كيدل

د الله پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: لَا يَبْلُغُ الْعَبْدُ اَنْ يَّكُوْنَ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ حَتّٰى يَدَعَ مَا لَا بَأْسَ بِهٖ حَذْرًا لِمَا بِهِ الْبَأْسُ يعني بنده تر هٰغه وخته پورې مُتَّقـي نه شي جوړيدے تر څو پورې چې ناجائزه كار كښې د اخته كيدو د ويرې جائز كار هم پرې نه ږدي.[1]

مطلب دا چې يو كار بالكل جائز دے، د هغې په كولو كښې څه ګناه نشته خو انديښنه ده كه بنده هغه [جائز] كار اوكړي نو په يو ناجائزه كار كښې به اخته شي، د دې انديښنې په وجه هغه جائز كار هم نه كول، دا د اهلِ تقوٰی اهم بنيادي صِفَت دے، د دې نه بغير بنده مُتَّقـي نه شي جوړيدے.

### د اِمام اِبنِ سِيرين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تقوٰی

اِمام اِبنِ سيرين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل وخت ډير لوئ اِمام وو، الله پاك هغوئي ته د خوبونو تعبير په علم كښې مهارت وركړے وو، اِمام قُشَيْرِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليكي: د اِمام

1 ...ابن ماجه، كتاب الزهد، صفحه:684، حديث:4215۔

اِبنِ سيرين رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه سره د غوړو 40 ټيمان وغيره وو، هغوئي ته خادم اووئيل چې په ټيمانو کښې يو ټيم کښې مړه مږه راوتې ده خو دا پته نه لګي چې هغه [مړه شوې مږه] په کوم ټيم کښې وه.

اوس اوګورئ! دا شبه راغله، په 40 کښې 39 ټيمان بالکل پاك دي، مړه مږه صرف په يو ټيم کښې راوتې وه خو دا پته نه لګيده چې په 40 کښې هغه ټيم کوم يو دے، ځکه په باقي 39 ټيمانو کښې شبه راغله، بس د دې شبهے په وجه اِمام اِبنِ سيرين رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه هغه ټول 40 ټيمانو کښې د يو ټيم غوړي هم استعمال نه کړه.[1] ولے ئې استعمال نه کړه؟ حَذۡرًا لِمَا بِهِ الۡبَاۡسُ د دې ويرې نه چې هسې نه په ناجائزه کښې اخته شم، داسې نه وي چې د کوم ټيم غوړي زه استعمالووم، هغه هٰغه غوړي وي د کومې نه چې مږه راوتې وه.

دا د تقوٰی د خاوندانو اعلٰـی صِفَت دے چې دا پاکان خلق د اللّٰه پاك نه ډير ويريږي، د خوفِ خُدا په وجه ګناهونو ته نِزدې نه ورځي تر دې پورې چې داسې يو جائز کار چې د هغې د کولو په وجه په ګناه کښې د اخته کيدو ويره وي، د هغه جائز کار نه لرې اوسي.

## د حضرت بايَزيد بسطامـي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه تقوٰی

حضرت بايزيد بسطامي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه هم ډير مُتَّقـي پرهيزګاره وو، اللّٰه پاك هغوئي ته د ولايت اوچته درجه ورکړې وه، يو ځل حضرت بايزيد بسطامي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه په سفر روان وو، په لاره کښې ئې يو ځائ قيام اوکړو، مريدان هم ورسره وو، حضرت بايزيد بسطامي

[1] …رساله قشيريه، تقویٰ کا بیان، صفحه:143۔

رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ خپل قميص مبارك اووينځلو، مريدانو عرض اوکړو: محترمه! دا قميص په مخامخ ديوال خوروو چې اوچ شي. اوئې فرمائيل: نه! دا چې د چا ديوال دے مونږه د هغه نه اجازت نه دے اخستے. مريدانو عرض اوکړو: بيا دا د ونے په يو ښاخ خوروو؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: د ونے په ښاخ مرغۍ کښيني، مونږه د مرغو نه د هغوي ځائ نه شو قبضه کولے. مريدانو عرض اوکړو: حُضُور! بيا دا قميص مونږه په ګيا باندې خوروو؟ اوئې فرمائيل: نه! ګيا د ځارووو خوراك دے مونږه د هغوئي خوراك نه شو پټولے. آخر کار حضرت بايزيد بسطامي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ خپل قميص مبارك په خپله ملا واچولو او خپله ملا ئې لمَر طرف ته کړه تر دې پورې چې قميص مبارك اوچ شو.[1]

سُبۡحٰنَ اللّٰه! دا تقوٰى ده....!! غور اوکړئ! د اللّٰه پاك دې نيکانو بندګانو به څومره احتياط کولو، په ډير سوچ او فِکر سره به ئې قدم ايښودلو چې هسې نه چې په ګناه کښې اخته شو، اللّٰه پاك دې مونږ ته هم تقوٰى او پرهيزګاري رانصيب کړي. د دې نيکانو خلقو سيرت چې لولو نو شرم راله راشي، دلته خو د داسې احتياطونو هډو دَرَک نه لګي. اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰه!

د مثال په طور ❁ نن سبا سوشل ميډيا بے تَکَلُّفه استعماليږي، ماشومان، ځوانان فيس بُك بيرته کړي او لګيا وي حالانکه د سوشل ميډيا په استعمال کښې د ګناه انديښنه نه وي، خو ډيره ګرانه ده چې انسان د سوشل ميډيا زيات استعمال اوکړي او د بد نظرۍ او د دې په شان د نورو سختو ګناهونو نه بچ شي. د دې مطلب دا نه دے چې د سوشل ميډيا صحيح استعمال هم منع دے، د فيس بُك، واټس ايپ، يوټيوب وغيره ښه اړخونه هم دي او کوونکے د دې ښه استعمال هم کوي، البته تقوٰى هم دا ده چې

---

[1] ...رساله قشيريه، تقوىٰ کا بيان، صفحه:144۔

چا ته د دې څيزونو واقعي ضرورت وي، هغه دې د ضرورت په مقدار استعمال اوکړي، ګني خير په دې کښې دے چې د سوشل ميډيا نه لرې پاتې شي چې د دې په ذريعه په ګناهونو کښې د اخته کيدو سخته انديښنه ده ❁ دغه شان يو عام مثال د پريشان نظرئ (يعني اخوا ديخوا کتلو) هم دے، په نن دور کښې خو اخوا ديخوا کتلو سره په لاره تلل ډير خطرناك دي، په سړکونو باندې غټ غټ سائن بورډونه لګيدلي وي، په هغې باندې د بے پرده زنانؤ تصويران وي بلکه اوس خو **S.M.D** راغله، په سړکونو باندې باقاعده د مشهورتيا د پاره ويډيو چليږي، په هغې کښې زنانه هم وي، اخوا ديخوا کتلو سره تلل جائز دي (يعني په دې کښې ګناه نشته) خو د دې په وجه د بدنظرئ په ګناه کښې د اخته کيدو سخته انديښنه ده، ځکه تقوٰی دا ده چې انسان سترګې ټيټې اوساتي او په لاره ځي او دا د تللو سُنَّت طريقه هم ده. مفتـئ دعوتِ اسلامي، مفتـي محمد فاروق عطاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سترګو د حفاظت ډيره غټه جذبه وه، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ضرورت د پاره سکوټر اخستې وو خو سکوټر ئې خرڅ کړو په دې وجه چې سکوټر چلولو سره سترګې ټيټې نه شي پاتې کيدے او په بدنظرئ کښې د اخته کيدو ډيره انديښنه وي.

سُبۡحٰنَ الـلّٰه! دا تقوٰی ده! الله پاك دې مونږ ته هم د تقوٰی نِعمَت رانصيب کړي.

## پرهيزګاري آسان عمل دے

د دې خبرو اوريدلو سره به کيدے شي محسوسيږي چې مُتَّقـي، پرهيزګار جوړيدل ډير ګران کار دے، دا زمونږه د وس خبره نه ده، **واقعي مُتَّقـي جوړيدل خو ګران کار دے** خو په يو لحاظ که اوګورو نو ډير آسان کار هم دے- حضرت سُفيان ثوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د پرهيزګارئ نه زيات آسان کار بل نشته، بس د کوم چې ستاسو په زړه کښې

[د هغې د بد والي] خيال راشي هغه پرېږدئ.[1] يعني د کوم کار په باره کښې چې 100 فيصده پته نه وي چې دا بالکل جائز دے او د دې په وجه په ګناه کښې د اخته کيدو انديښنه هم نه وي، د هغه کار په باره کښې چې مو تر څو شرعي رهنمائي اخستې نه وي نو تر هغه وخته پورې هغه کار مه کوئ!

## د نيکانو بندګانو يو بهترين صفت

حضرت اِمام شعرانـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د الله پاك د نيکانو بندګانو د اخلاقو نه دي چې ترڅو پورې به هغوئي ته د قرآن او سُنَّت او شريعت په رنړا کښې د يو کار واضحه حکم معلوم نه وو، تر هغه وخته پورې به هغوئي هغه کار نه کولو.[2]

کاش! مونږه هم دا عادت خپل کړو، چې ترڅو پورې د شريعت په رنړا کښې يو حکم معلوم نه وي، تر هغه وخته پورې هغه کار اونکړو. دا به مو خوش نصيبي وي چې مونږه د دارُ الافتاء نمبر ځان سره اوليکو، چې کله هم د څه څيز په باره کښې مو شك شي، فورًا د مُفتـي صاحب نه راهنمائي واخلو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه د دعوتِ اسلامي آئي. ټـي ډيپارټمنټ د دارُ الاِفتاء اَهلِسُنَّت په نوم يو موبائل ايپلي کيشن خور کړے دے، په هغې کښې ډيرې زياتې فتاوې موجودې دي او د علمِ دين ډير زيات مواد په دې ايپلي کيشن کښې موجود دي. دا ايپلي کيشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ. الله پاك دې مونږ ټولو له د عمل کولو توفيق را عطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

[1] …رساله قشيريه، باب الورع، صفحه: 148۔

[2] …تنبيه المغترين، صفحه: 22۔

## د مُتَّقيانو 4 اوصاف

د مسلمانانو څلورم خليفه اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عَلِـيُّ الْمُرتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: تقوٰی د څلورو څيزونو د مجموعې نوم دے: 1 :اَلْخَوْفُ مِنَ الْجَلِيْلِ (يعني د الله پاك نه ويره) 2 :اَلْعَمَلُ بِالتَّنْزِيْل (يعني په قرآنِ كريم باندې عمل كول) 3 :اَلْقَنَاعَةُبِالْقَلِيْلِ (يعني په لږ څيز باندې صبر كول) 4 :اَلْاِسْتِعْدَادُ لِيَوْمِ الرَّحِيْلِ (د آخرت د سفر تياري كول).[1] يعني دا 4 اوصاف چې كوم خوش نصيبه ته نصيب شي، هغه مُتَّقـي جوړيږي.

## (1) خوفِ خُدا

خوفِ خُدا [يعني د الله پاك نه ويريدل] يو واګے دے كوم چې انسان د ګناهونو نه بچ ساتي، كه دا واګے اوشليږي يا سست شي (يعني په زړه كښې د الله پاك ويره پاتې نه شي) نو بنده په ګناهونو زړور كيږي، ځكه خوفِ خُدا د مُتَّقـيانو ډير ضروري صِفَت دے.

## د حضرت عُمَر بِن عبدُالعزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د الله نه ويره

منقول دي: يوه ورځ حضرت يزيد رقاشي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حضرت عُمَر بِن عبدُالعزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت مبارَك كښې حاضر شو، حضرت عُمَر بِن عبدُالعزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ورته اوفرمائيل: ما ته څه نصيحت اوكړه! حضرت يزيد رقاشي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اووئيل: اے اَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْن! تاسو اوَّل خليفه نه يئ چې چا ته مرګ راځي (يعني ستاسو نه مخكښې هم ډير بادشاهان تير شوي دي). د دې په اوريدلو حضرت عُمَر بِن عبدُالعزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په ژړا شو، بيائې اوفرمائيل: نور نصيحت اوكړه! حضرت يزيد رقاشي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اووئيل: ستاسو نه واخله د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلام پورې چې ستاسو څومره پلاران

---

[1] …بستان العارفين، تقوى كا بيان، صفحه:107۔

نیکونه دي، په هغوئي کښې یو کس اوس ژوندے نشته. حضرت عُمَر بِن عبدُالعزیز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بیا په ژړا شو او اوئې فرمائیل: نور نصیحت راته اوکړه! حضرت یزید رقاشي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اووئیل: د جنَّت او دوزخ په مینځ کښې بل ځائ نشته (یعني زمونږ مقام به دوزخ وي یا جنَّت، د دې نه علاوه بل ځائ نشته). دا خبره ئې چې واوریدله نو په حضرت عُمَر بِن عبدُالعزیز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه باندې د الله پاك ویره غالبه شوه او بے هوشه شو په زمکه راپریوتلو.[1]

اے عاشِقانِ رسول! اوګورئ! څنګه د الله پاك ویره ده. حضرت عُمَر بِن عبدُالعزیز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خلیفه وو، د هغوئي سره حکومت وو، تاج او تخت وو، اختیارات وو، دا هغه څیزونه دي کوم چې عام طور خلق سرکشه جوړوي، چې حکومت، عهده، اختیارات میلاؤ شي نو خلق په ګناهونو باندې زړَوَر کیږي خو حضرت عُمَر بِن عبدُالعزیز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خلیفه جوړیدلو نه مخکښې هم مُتَّقي وو، د خلیفه جوړیدلو نه پس هم مُتَّقي وو، هغوئي په خپل دورِ حکومت کښې په چا ظُلم نه دے کړے، د خلقو حقونه ئې برباد کړي نه دي بلکه عدل او انصاف ئې قائم کړے وو، ولے؟ په دې وجه د حضرت عُمَر بِن عبدُالعزیز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زړه د الله پاك د ویرې نه ډك وو.

## د الله ویره به څنګه نصیب شي؟

معلومه شوه چې د ګناهونو نه بچ کیدلو او تقوٰی حاصلولو د پاره د الله پاك ویره ډیره ضروري ده. الله پاك دې مونږ ته هم د خوفِ خُدا نِعمَت را نصیب کړي. د الله پاك ویرې حاصلولو د پاره ❀ د قرآنِ کریم تلاوت خپل معمول جوړ کړئ، خاص طور هغه آیتونه په کومو کښې چې د دوزخ د عذاب او د قیامت ذِکر دے، د هغې آیتونو ترجمه

[1] ...تنبیه المغترین، صفحه:49ملتقطاً۔

او تفسیر لوستلو او په ذِهن کښې کښېنولو د پاره بار بار دې د هغې آیتونو تِلاوت اوکړے شي ❁ په حدیثونو کښې د **خوفِ خدا** بیان دے، داسې حدیثونه دې اولوستے شي، ❁ په **خوفِ خدا** باندې د مشتملو کتابونو مطالَعَه دې اوکړے شي ❁ **د خوفِ خدا** لرلو والا بُزُرګانِ دینو سِیرت دې اولوستے شي ❁ جدول دې جوړ کړے شي، هره ورځ یا کم از کم په هفته کښې یو ځل مقبرے ته د تګ بندوبست اوکړے شي، هلته دې فاتحه [یعني اَلْحَمْد] شریف هم اولوستے شي او د دې سره سره دې په دې خبره غور اوکړے شي چې نِزدې ده چې زه به هم قبر ته کوزیږم، هغه وخت به زما د بے وسئ څه حالت وي؟ بیا دې د قبر په مُعامَلاتو غور اوکړے شي. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم!د الله پاك نه د ویرې دولت به درنصیب شي.

## (2) په قرآن باندې عمل

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د مسلمانانو څلورم خلیفه اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عَلِیُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د مُتَّقیانو څلور اوصاف ښودلي دي، په هغې کښې دویم وصف اَلْعَمَلُ بِالتَّنْزِيْلِ دے، یعني په قرآنِ کریم باندې عمل کول.

دا هم ډیر اهم او ضروري صفت دے، نن سبا داسې خلق موجود دي چې ځیپله ځیل ځان ډیر پرهیزګاره، صُوفي او معلومه نه ده چې څه څه ظاهروي خو په حقیقت کښې جاهِل وي، په قرآنِ کریم باندې ځان پوهه کول او عمل پرې کول خو لا لرې خبره ده، [قرآنِ مجید] صحیح هم نه شي لوستے، د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّتو نه بالکل جاهل وي او ځان صُوفي باصفَا ظاهرولو سره خلق ګمراه کوي. د مُتَّقیانو اِمام حضرت جُنید بَغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زمونږ کتاب (یعني قرآنِ کریم) د ټولو کتابونو سردار دے، زمونږه شریعت د ټولو نه واضحه شریعت دے او زمونږه (د

مُتَّقـيانو) طريقه د كتاب او سُنَّتو سره تړلے شوې ده، بس څوك چې د قرآنِ كريم علم نه لري، څوك چې حديثِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه يادوي، نه د هغې معانـې نه پيژني، **د هغه تابعداري ټيك نه ده.**[1]

حضرت اِمام شَعرانـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يو ځل داسې يو **ډهونګي بابا** زما خوا ته راغـے، د هغه سره خپل ملګري هم وو، دا كس خو جاهِل وو خو د **فَنا** او **بَقَا** په باره كښې به ئې خبرې كولې او خلق به ئې ګمراه كول، ما هغه ته اووئيل: لږ د اوداسه او لمَانځه فرائض بيان كړه! هغه سخت حيران پاتې شو او اوئې وئيل: ما ته د ظاهر شريعت علم نه راځي. اِمام شَعرانـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما ورته اووئيل: اے انسانه! ترڅو پورې چې دې د قرآن او حديث علم نه وي زده كړے، تر هغه وخته پورې بنده په صحيح طريقه عبادت نه شي كولے، كوم بنده ته چې واجِب، مُستحب، مكروه او د حرامو فرق معلوم نه وي، هغه جاهِل دے، د هغه تابعداري كول څنګه ټيك كيدے شي؟ اِمام شَعرانـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زما دا خبرې ئې چې واوريدلې نو هغه حيران پريشان شو او څه جواب ئې رانكړے شو او روان شو.[2]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا حقيقت دے، كه مونږ ته اودس كول نه راځي، لمُونځ كول نه راځي، د پاكۍ او ناپاكۍ مسائل معلوم نه وي، اللّٰه پاك مونږ ته د كومو خبرو حكم راكړے دے؟ او د كومو خبرو نه ئې منع كړي يو؟ جنَّت ته بوتلونكي عملونه څه دي؟ دوزخ ته بوتلونكي عملونه څه دي؟ شيطان څنګه حملې كوي؟ د هغه د حملو نه به څنګه بچ كيږو؟ ترڅو پورې چې مونږ ته د دې خبرو علم نه وي،

---

[1] …تنبيه المغترين، صفحه:20۔

[2] …تنبيه المغترين، صفحه:21۔

مونږ به د شيطان نه څنګه بچ شو؟ چې کله د شيطان د مکر نه بچ نه شو نو ګناه به څنګه پريږدو؟ چې کله ګناه پرېږدو نه نو تقوٰی به څنګه نصيب شي؟ تقوٰی خو دا ده چې بنده د ګناهونو نه بچ شي. په دې وجه مُتَّقــي جوړيدل دي، پرهيزګاره جوړيدل دي، د دې د پاره ضروري ده چې مونږه علمِ دِين زده کړو، قرآن لوستل هم زده کړو، ځان پرې پوهول زده کړو، حديثونه زده کړو، سُنَّتونه او فرض علمونه زده کړو، بيا پرې عمل هم اوکړو.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اسلامي مونږ ته دا ټول هر څه زده کوي❁ د لمُونځ زده کولو د پاره **فيضَانِ نماز کورس** اوکړئ! ❁ که فرض علوم زده کول وي نو **فرض علوم کورس** اوکړئ! ❁ که د نيك لمُونځ ګزاره جوړيدلو خواهش وي نو **اِصلاحِ اعمال کورس** اوکړئ ❁ که قرآنِ کريم زده کول غواړئ نو په **مدرسةُ المَدينه بالغان** کښې شرکت خپل معمول جوړ کړئ ❁ که عالِم جوړيدل غواړئ نو په **جامعةُ المَدينه** کښې داخله واخلئ ❁ د **فيضان آن لائن اکيډمي** په ذريعه آن لائن کورسونه اوکړئ ❁ په مَدَني قافِلو کښې سفر کول خپل معمول جوړ کړئ. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! ژوند به مو ښائسته شي، د سُنَّتونو زده کولو موقع به ميلاؤ شي، په زړه کښې به مو عشقِ رسول زيات شي او د الله پاك په فضل او کرم سره به د دِين او دُنيا بے شميره نيکئ درنصيب شي.

## (3) قناعت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د مُتَّقيانو اوصاف کوم چې د مسلمانانو څلورم خليفه اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عَلِــيُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بيان کړي دي، په هغې کښې دريم صفت اَلْقَنَاعَةُ بِالْقَلِيْل يعني په لږه باندې قناعت کول.

د قناعت معنىٰ ده: په قِسمَت باندې راضي کيدل. دا هم د تقوىٰ د پاره بنيادي صفت دے، چا ته چې قناعت نصيب نه وي، د هغه د ګناهونو نه بچ کيدل ډير ګران وي، ډير داسې ګناهونه دي کوم چې د لالچ او حرص په وجه کيږي: ❁ د لالچ په وجه د رشوت لين دين کيږي ❁ د لالچ په وجه سُودي کاروبار کيږي ❁ د لالچ په وجه د حرامو ذرائعو سره مال حاصليږي ❁ د لالچ په وجه د يتيمانو حق وهلے کيږي ❁ د لالچ په وجه ورور ورور وژني ❁ تر دې پورې چې بعضې لالچي خلق غير مسلمه ملکونو ته د تللو د پاره خپل ځان کافِر هم ليکي.

ځکه کوم بنده چې د الله پاك په ورکړه راضي کيدو سره قناعت اختيار نکړي، د هغه د ګناهونو نه بچ کيدل ډير زيات ګران وي او څوك چې د ګناهونو نه نه شي بچ کيدے، هغه به مُتَّقي څنګه جوړيږي؟

## د قناعت په باره کښې د مُتَّقيانو دوه واقعات

❁ حضرت محمد بِن واسِع رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د مالګې او سرکې سره ډوډۍ خوړله، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به فرمائيل: کوم بنده چې په دومره دُنيا باندې راضي شي، هغه د خلقو مخکښې د ذِلَّت نه بچ کيږي.[1] ❁ حضرت سُفيان ثوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په نن زمانه کښې چې څوك د وربشو په ډوډۍ قناعت اونکړي، هغه به په ذِلَّت او رُسوائي کښې اخته کيږي. يو ځل يو سړے د حضرت سُفيان ثوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: آيا زه مال جمع کولے شم؟ هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: مال جمع کولو کښې پينځه بدۍ دي: **(1)** د دې سره اُمّيدونه اوږديږي (حالانکه مونږ ته د يو ساعت باور نشته، معلومه نه ده چې کله مرګ راځي) **(2)** د مال

---

[1] …تنبيه المغترين، صفحه:100۔

جمع کولو سره حرص زیاتیږي **(3)** د مال جمع کولو په صوب بُخل (یعني شومتیا) زیاتیږي **(4)** د مال جمع کولو په صوب بنده آخرت هیروي او په غفلت کښې اخته کیږي **(5)** د مال جمع کولو یو غټ آفت دا دے چې د بنده په پرهیزګارۍ کښې کمے راځي.[1]

## د قناعت مختصر فضائل

الله پاك دې مونږه د مال د حرص نه بچ کړي ❁ قناعت (یعني الله پاك چې څه درکړي دي، په هغې باندې راضي کیدل) ډیر لوئ نِعمَت دے ❁ قناعت د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دے ❁ قناعت د صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان طریقه ده ❁ قناعت د اولیائے کرامو عَلَيْهِمُ الرَّحْمَة طریقه ده ❁ قناعت اختیاروونکے د الله پاك محبوب دے ❁ قناعت سره د الله پاك رضا نصیب کیږي ❁ د قناعت په برکت سره قبر او حشر کښې آساني حاصلیږي ❁ او قناعت جنَّت ته بوتلونکے کار دے.

## (4) د آخرت تیاري

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د مسلمانانو څلورم خلیفه اَمِیْرُ الْمُؤْمِنِیْن، حضرت عَلِیُّ الْمُرتَضٰی رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د اهلِ تقوٰی څلورم صفت دا بیان کړے دے: اَلْاِسْتِعْدَادُ لِیَوْمِ الرَّحِیْل یعني د دې دُنیا نه د تللو د ورځې تیاري کول.

## د مرګ د ورځې نه اُویَریږئ.....!!

الله پاك په قرآن کریم کښې فرمائي:

[1] ...تنبیه المغترین، صفحه:100۔

وَ اتَّقُوْا یَوْمًا تُرْجَعُوْنَ فِیْهِ اِلَى اللّٰهِ ۗ قف

(پاره:3،سورۂ بقرة:281)

[مفهوم] ترجمۂ کَنْزُ العِرْفان: او د هغه ورځې نه اُویَرېږئ په کومه کښې چې به تاسو الله طرف ته بیرته کرځئ.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا د عبرت خبره ده، مونږه په دې دُنیا کښې ډېر څه کوو، ❀ غتې غتې ډګرئ حاصلوو ❀ نوکري ❀ کاروبار ❀ ګټل، خوړل ❀ غټے غټے منصوبے جوړول ❀ بنګله، عالي شان محلات ❀ د اعلٰی نه اعلٰی منصب حاصلولو د پاره کوششونه کول وغیره ډیر څه کوو خو د سوچ خبره ده، آیا مونږه د هغه ورځې د پاره تیاري کوو په کومه ورځ چې به دا هر څه دلته په دُنیا کښې پریښودل او د تیارو نه ډك قبر ته کوزیدل وي، آه! هغه به څنګه د بے وسئ ورځ وي، څومره بے وسي به وي، چې کله حضرت عزرائیل عَلَیْهِ السَّلَام تشریف راوړي،زمونږه ټول خپلوان، اولاد، دوستان، زمونږ بینك بیلنس وغیره به هیڅ په کار رانشي، خپلوان به مو ولاړ وي، ګوري به، مَلَكُ المَوت عَلَیْهِ السَّلَام به رُوح قبض کړي خو څوك به څه کولے نه شي، بیا به را ته غُسل راکړے شي، کفن به راته واغوستے شي، بیا به مو د تیارو نه ډك قبر ته کوز کړي، بیا به مونږه یو او زمونږه عملونه به وي، د دې نه سِوا به هیڅ یو څیز راسره نه ځي. د غور مقام دے! مونږه په دې دُنیا کښې لږ وخت تیروو، هغه هم څومره دے؟ مونږ ته معلوم نه دے؟ کیدے شي چې د بیا ساه اخستلو موقع هم میلاو نه شي. د دې باوُجود مونږه چې څومره د دې دُنیا د پاره کوو، دومره نه، د دې په نیمه هم، آیا مونږه قبر د پاره تیاري کوو؟ شاید نه کوو.

# مُتَّقیان او د مرګ تیاري

زمونږه اسلاف (یعني د الله پاك نیك بندګان څوک چې مُتَّقیان، پرهیزګاران وو، هغوئي) به صرف د قبر او آخرت فِکر لرلو او هغوئي به هر وخت د مرګ په تیارئ کښې مصروفه اوسیدل. ❁ حضرت خواجه سِرِّي سقطي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه 98 کاله په دُنیا کښې ژوند تیر کړے دے، د ځنکدن د وخت نه علاوه چا هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ملاست نه دي لیدلي، همیشه به ئې عبادت کولو ❁ محمد جریري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه یو کال په مکه مکرمه کښې پاتې شوے وو، نه اوده شوے دے، نه ئې ملا سیدها کړې ده، نه ئې ښپے غزولې دي، د سحر لمَونځ ادا کولو نه پس به ئې د الله پاك ذِکر شروع کړو، ماسپخین به شو، د ماسپخین لمَانځه نه پس به بیا د الله پاك ذِکر کښې مصروف شو، تر دې چې مازیګر به شو، نو د مازیګر نه تر ماښامه پورې، د ماښام نه ماسخُوتنه پورې، د ماسخُوتن نه د سحره پورې به ناست وو او د الله پاك ذِکر به ئې کولو ❁ حضرت ابوبکر عیَّاش رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به هره ورځ 30 زره پیرې سورۂ اِخلاص لوستلو، هره ورځ به ئې 500 رکعته نفلونه کول، په ورځ کښې به ئې څو څو ځله د قرآنِ کریم ختم کولو ❁ حضرت اِمام اعظَم ابُوحنیفه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه 40 کاله د ماسخُوتن په اوداسه د سحر لمُونځ ادا کړے دے، هره شپه به ئې په دوو رکعتو کښې د قرآنِ کریم ختم کولو.[1]

اندازه اولګوئ! د الله پاك دا نیکان بندګان به څنګه هر وخت په نیك کارونو کښې مصروفه اوسیدل، هغوئي سره د آخرت فِکر وو، مرګ او قبر یاد لرونکي وو. کاش! مونږه هم د دې مُتَّقیانو اوصاف خپل کړو. کاش! مونږ ته هم د مرګ د تیارئ کولو توفیق رانصیب شي. الله پاك دې توفیق راکړي. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

[1] ...جواہرُ البیان، صفحه:3332۔

## 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار هفته واره "مدني مذاكره"

اے عاشِقانِ رسول! دُنيا او آخرت بهترين موندلو، د اوليائے كاملين فيض حاصلولو، په زړه كښې عشقِ رسول زياتولو او نيك لمُونځ ګزاره جوړيدلو د پاره د عاشِقانِ رسول دِيني تحريك دعوتِ اسلامي دِيني ماحول سره وابسته شئ، او 12 ديني كارونو كښې ښه په اخلاص حِصَّه واخلئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د دې ډير ثوابونه به حاصل كړئ، د دعوتِ اسلامي 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار هفته واره "**مدني مذاكره**" هم ده.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شيخِ طريقت، اَميرِ اَهلِسُنَّت، حضرت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د اتوار په شپه په مدني چينل باندې براهِ راست (Live) مدني مذاكره فرمائي، د ټولې دُنيا عاشقانِ رسول د ديني او دُنياوي مشكلاتو مُتَعَلِّق د هغوئي په خدمت كښې پوښتنې كوي او هغوئي د علم او حكمت نه ډك جوابونه وركوي. تاسو هم هره هفته بے ناغه په "**مدني مذاكره**" كښې شريك كيږئ. اِنْ شَآءَاللّٰهُ الكريم ښچپله به د دې ديني كار بركتونه اووينئ.

## ماشومان هم لمُونځ ګزاره جوړ شو

د تحصيل تله ګنګ (ضلع چكوال، صوبه پنجاب) يو اسلامي ورور خبره ده: مخكښې زه د مُعاشرے وران كارے انسان ووم ، سګريټ، چرس، شراب څه چې به ميلاويدل، ما به استعمالول، يو ځل په ما كرم اوشو او ما د رَمَضَانُ المُبارَك روژې نيول شروع كړې، هره ورځ په مدني چينل باندې را ته مَدَني مُذَاكرَه كتل هم نصيب شو، د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د حكمت نه ډكو خبرو زما په زړه اثر اوكړو او زما په ژوند كښې انقلاب راغے، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ما د ګناهونو نه رښتينې توبه اوكړه او په ګيره مباركه مې خپل مخ ښائسته كړو، پينځه واړه لمُونځونه مې په جمات كښې په جَمعې

سره ادا کول شروع کړه. زما په لمَانځه لیدلو زما دولس کان څوئ او لس کلني لور هم لمُونځ ادا کول شروع کړه. څوئ خو د جَمعې لمَانځه ادا کولو د پاره زما سره جمات ته ځي.[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د بیان په آخره کښې د سُنَّتو فضیلت او یو څو سُنَّتونه او آدابو د بیانولو ثواب حاصلووم. یوه ورځ تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې ځله اِرشاد اوفرمائیلو: "زما په نائب دِ د اللّٰه پاك رحمت وي، عرض اوکړے شو: حُضُور! ستاسو نائب څوك دے؟ اوئې فرمائیل: زما د سُنَّتو سره محبت کوونکي او نورو ته زده کوونکي.[2]

| | |
|---|---|
| سُنّت کے مطابق میں ہر اِک کام کروں کاش! | تُو پیکرِ سُنَّت مجھے اللہ بنا دے[3] |
| اے کاش! زما هر کار شي د سُنَّتو مطابق | پیکر کړې د سُنَّتو ما، زما خوږه مَولٰی |

## د روژې د نِیَّت مدني ګلونه

❀ د روژې د پاره نِیَّت شرط دے. لِهٰذا "که څوك د صبا صادِق نه واخله د لمر پریوتو پورې د روژې د نِیَّت کولو نه بغیر څه خوراك څښاك بالکل اونکړي نو بیا به هُم د هغه روژه اونشي" ❀ د ادائے رَمَضان د روژې د پاره د نِیَّت کولو وخت د لمر پریوتلو نه پس د ضَحْوَهٔ کُبرىٰ یعني نِصْفُ النَّهَار شَرْعِی نه مخکښې پورې دے. د دې پوره وخت په دوران کښې چې تاسو کله هُم نِیَّت اوکړئ نو دا روژې به اوشي. ❀ نِیَّت د زړه د ارادے

1 …فیضان مدنی مذا کرہ، صفحہ:72۔

2…جامع بیانِ عِلْم، بَابُ:عِلْم کے فضائل، جلد: 1صفحہ:201، حدیث:220۔

3…وسائلِ بخشش، صفحہ:118۔

نوم دے، په ژبه وئیل شرط نه دے، خو په ژبه وئیل **مُسْتَحَب** دي ❁ که د شپے د **رَمَضان** دروژے **نِيَّت** کوئ نو داسې اُووائې: نَوَيْتُ اَنْ اَصُوْمَ غَدًا لِلّٰهِ تَعَالٰى مِنْ فَرْضِ رَمَضَان. ترجَمه: **نِيَّت** مې اوکړو چې د **الله** تعالیٰ د پاره به صبا د دې **رَمَضان** فرض روژه نیسم. ❁ **نِيَّت** په خپله مورنئ ژبه کښې هُم کیدے شي ❁ که په عربئ کښې ئې کوئ او که په بله ژبه کښې ئې کوئ خو د **نِيَّت** کولو په وخت کښې په زړه کښې اِراده موجوده کیدل شرط دے، کنې په بے خیالئ کښې صرف په یادو زده کړو جُملو ادا کولو سره به **نِيَّت** نه کیږي. ❁ خو که په ژبه ئې زده کړے **نِيَّت** اُووئیلو مګر وروسته ئې په مقرره خت کښې دننه دننه په زړه کښې هُم **نِيَّت** اوکړو نو بیا **نِيَّت** صحیح دے. ❁ د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د هرې روژې د پاره نوے **نِيَّت** ضروري دے. ❁ که په یکم تاریخ یا په بل یو تاریخ ئې د پوره **رَمَضان** د روژو **نِيَّت** اوکړو نو هُم دا **نِيَّت** صرف د هغه یوے ورځې په حق کښې دے، د باقي ورځو د پاره نه دے. ❁ د شپے ئې د قضا روژې **نِيَّت** اوکړو، که بیا د سحر شروع کیدو نه پس دا نفل کول غواړي نو نه ئې شي کولے. خو د شپے شپے **نِيَّت** بدلولے شي. ❁ که د لـمانځه په دوران کښې ئې هُم د روژې **نِيَّت** اوکړو نو دا **نِيَّت** صحیح دے.

د رمضان د میاشتې د فضائِلو او د روژې متعلق تفصیلي اَحکامو او مسائِلو زده کولو د پاره د شیخِ طریقت، امیر اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ډیر اهم کتاب فیضانِ رمضان اولولئ!

الله پاک دِ مونږ ته د عمل کولو توفیق رانصیب کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنّتو ډکه اجتماع کښې

# لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ
الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

1...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا خوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

---

1...القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

3...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰہُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰہِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

1… الترغيب والترهيب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2… مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة…الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3… تاريخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵